مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۳/۰۹

# ښځه،

## د عرش له نوره راوتلې چینه

د عرش له نوره راوتلې چینه
د عشق له خاورې سره ګډې اوبه

په دې هستی د ښځې نوم پورې شو
ادم یې سیورې د ښکلا ته ویده

دې لوپټې لاندې ماشوم للو کړ
له پاسه نور د خدای پرې ووریده

ماشوم پرې پوه نه شو، ادم خبر نه
ښځې د ستورو هومره رنځ ولیده

ماشوم چې وږی شو، شیدې یې ورکړې
ادم چې ستړی شو، دې ورنازاوه

ښځه هم وږې وه هم ستړې ستړې
هیڅوک په دغه راز ونه پوهیده

ماشوم چې لاس خلاص کړ، د مور خندا وه
ادم چې لاس پرانیست، د دې په کې زړه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ